# د قېدي خطونه

لیک: یونس جان
ترجمه : مشتاق مجروح یوسفزے

ټي بي وارډ
ډسټرکټ جېل ایبټ اباد
23 اپرېل 1943

د ایبټ اباد واورینه آب و هوا ، د واورې ښائسته ننداري او د هغې نه پس د هغه ځائے سپرلے او بیا دا پوخ یقین چې خامخا به ښۀ کېږم دا داسې څیزونه وو چې په بیمارۍ ئې قابو وموندو. اګر چې مکمله شفا مې نۀ وه نصیب شوې خو ښۀ شوے وم. څومره پورې چې د معمولي لاندي باندي تعلق دے نو دا خو د انسان د ژوند سره تړلي څیزونه دي او دې سره په مقابله کولو بنده د سړیتوب درجه مومي. په دې یو څو میاشتو کښې مې هغه څۀ زده کړي دي چې په کلونو مې نۀ شو زده کولے. د مختلف اذیتونو او ذهني تکلیفونو برداشت کولو په وجه اوس د هغې سره بلد شوم. خط نۀ وي نو کتاب لولم. ملاقاتونه بند وي نو دلته چا سره خبرې کوم او د زړۀ براس وباسم. اخبار نۀ ملاوېږي نو خپل خیالي اسونه ځغلوم. کله نا کله د بهر دنیا خبرونه راشي. اګر چې په هغې پوهېدل ګران وي چې څۀ شوي دي ځکه چې د جېل ملازمان د حد درجې بې وقوفان دي او بیا ورسره دا ویره هم وي چې څوک ئې زمونږ ایلچي ونۀ ګڼي. له دې وجې نه ډېر احتیاط کوي او پېغام رارسوي. بیا هم د دې نامعقولو وجود یو غنیمت دے. لږه شان دماغي لوږه مو د دوي په ذریعه لرې شي.

ایبټ اباد ته راغلے یم دوه میاشتې وشوې چې خطونه راتلل بند شوي دي. معلومه شوه چې بادشاهي عنایتونه مخ په ترقۍ دي. یعني ملاقاتونه هم بند او اوس په درې میاشتې کښې یو خط. دې څیز مې تنهائي نوره زیاته کړه. ټولې رشتې او رابطې ختمې شوې او ټول دارومدار مې په خپل ذات شو. شاید حاکمان دا غواړي چې دلته د بهرنو سرګرمو نه بې خبره پاتې شم خبر:

> ګل و ګلچین کا ګله بلبل خوش لهجه نه کر
> تو ګرفتار هوئي اپنی نوا کے باعث

وړومبے خط مې چې درې میاشتې پس ولیکلو نو د کتاب په شان راته ښکاره شو. جېل واله هم ویرېدل ځکه چې دوي له دې نه مخکښې دومره اوږد دستاویز نۀ وۀ لیدلے. په دې خط کښې د شلګونو خطونو مضامین وو او د ډېرو خلقو دپاره چې هغه د کټ کوټ نه پس هغوي ته رسېدل. دې سره کار روان شو. خو چې چا ته د روزانه خط لیکلو او د هغې د جواب ملاوېدو عادت شوے وم د هغۀ

په دې حيلو او بهانو ځۀ تسلي کېده. لاس مې ليکلو ته خاربښتېږي او سترګې مې د خط ليدو پسې ړندېږي. خو دا ستم ظريفي شامل حال ده او زۀ د دنيا د ټولو نه د لوئي بادشاه په سلطنت کښې د نمر پرېوتو انتظار کوم او د دې نمر پرېوتو نه پس به دا ارمان پوره کېږي. دا وخت خو صرف هغوي ته بدرد وئيلے شم يا ئې حق طرف ته د راتلو دعا کولې شم.

د يوې تبديلۍ ذکر کول مې هېر شوي وو هغه فال ګر داروغه کوهاټ ته بدل شوے دے او د هغۀ په ځائے لاله موتي شاه چې د شکل او صورت نه تُرک معلومېږي، راغلے دے. ډېر زيات سنجيده دے او کمې خبرې کوي. د هغۀ د کور مخې ته هر وخت چې د دې ځائے نه ښۀ ښکاري، خلق په خوراک څښاک کښې مشغول وي او شايد چې په دۀ ئې هم خوروي. ډېره مزه کوي ځکه چې د مفتو شراب قاضي هم څښي.

په پته لګېدو وخت نۀ لګي دلته مې د يو انتهائي چالاک سره واسطه راغله. د دۀ وارۀ ځامن اکثر د ازغنو تارونو د هغه خوا نه سلامونه کوي.

د يو ډپټي جېلر کور هم نزدې دے او د هغۀ او د هغۀ د ښځې جنګ ښۀ اورېدې شي خو چې کله د جنګ نه پس بهر راوځي نو ډېر په شان او شوکت کښې وي.

د شوقين مزاجۍ په وجه مشهور دے. ماله کله زما د خطونو خبر راکوي کوم چې د دۀ په دفتر کښې جمع کېږي. يوه ورځ ئې زما د مشر ورور د لور صغرا د کوژدېدو خبر راکړو. اکرام ډېر ښۀ سړے وۀ او د شوکت سره د رشته دارۍ په وجه راته ډېر ګران وۀ. خبر راته په ګول مول طريقه ملاو شوے وۀ ځکه نو تعزيتي خط مې ونۀ لېږلو.

چې سپرلے شو نو په هر څۀ کښې ساه راغله. څلورو خواو ته غرونه شنۀ شو، د خواؤشا ونو کښې کلۍ راښکاره شوې او بيا پاڼې شوې. دې ما له ډاډ راکړو چې شايد زۀ به هم ښۀ شم ځکه چې:

پرتو خور سے هے شبنم کو فنا کی تعليم
مين بهی هون ايک عنايت کی نظر هونے تک

د الله پاک مهرباني شامله وه زما حالت ورځ تر ورځ ښۀ کېدو. وينه راتلل بند شو او تبه هم لاړه. وزن مې هم دوه پونډه زيات شو. داسې حال کښې مې بيا ليکل لوستل شروع کړل او د خپل کتاب يوه خاکه مې تياره کړه. کۀ يو څو کلونه نور هم داسې ملاؤ شو نو کېدے شي چې دا کتاب وليکم. في الحال خو د راروان خط انتظار دے چې يو باب وليکم او ډاکټر رادها کرشنن ته ئې واستوم او د هغۀ رائې حاصله کړم. هغۀ راسره د امداد کولو وعده کړې ده. دا وخت زۀ د مذهبي خيالاتو پړتال کوم. د سرکار له اړخه هم څۀ خنډ نشته او کتابونه هم ملاوېږي. چې

دا وخت زۀ د مذهبي خيالاتو پړتال کوم. د سرکار له اړخه هم څۀ خنډ نشته او کتابونه هم ملاوېږي. چې سياسي تحقيق کوم نو په حرکت کښې راځي. هغه ورځ سنسر والو د سپينګلر د ((ډيکلائن آف دي ويسټ)) ونيولو ځکه چې د هغوي دا خيال وۀ چې په دې کښې به د برطانيې د تباهۍ حال ليکلے وي.

سیاسي تحقیق کوم نو په حرکت کښې راځي. هغه ورځ سنسر والو د سپینګلر د «ډیکلائن آف دي ویسټ» ونیولو ځکه چې د هغوي دا خیال وۀ چې په دې کښې به د برطانیې د تباهۍ حال لیکلے وي.

اندھے کو اندھیرے مین بھت دور کی سوجھی

ما تراوسه په هندوازم، بدهـمت، عیسائیت او اسلام څۀ خبرې نوټ کړي دي او د هغې په وضاحت کښې لګیا یم. دې سره راته یو څیز ډېر صفا ښکاره شو چې د اسلام په بنیادي خبرو مسلمانان او غېر مسلم دواړه نۀ دي پوه شوي او د هغې نه ئې غلط مطلب اخستے دے. مثلاً مسلمان خپل ځان د جنت ټېکدار او نورو خلقو تُوره په لاس د یو عیاش درجه ورکړې ده. حالانکې قرآن پاک کښې ئې صفا لیکلي دي چې جنت په نېغه لاره د تلونکو دپاره دے نۀ چې عبدالله ولد خېرا دین دپاره. دلته خو مې د کافر او اهل کتاب اصلي مطلب ذهن کښې کښېناست چې هغه ولیکم نو هنګامه به جوړه شي ځکه چې خلق کافران ګرځونکي څلورو طرفو ته ګرځي مسلمان جوړول خو د چا د وس کار نۀ دے.

د مۍ میاشت راغله نو مسلم لیګ زمونږ قېد او بند غنیمت وګڼلو او د صوبه سرحد په وزارتونو ئې قبضه وکړه او بیا ئې په دې کامیابۍ خوشحالۍ هم کولې. د لوئي نه واخلې تر وړوکي مسلم لیګي پورې غېرت یو طرف ته کېښودو او په دې وبنا نۀ شرمېدل چې سرحد اوس د مسلم لیګ د جنډې لاندې راغے. خلقو ته د لافوویشتلو والا د انګرېز دې شریفانو نه دا خبره هېره وه چې د صوبې غېرتي او بهادر خلق خو په جېلونو کښې بند دي او بیا د حېرانۍ خبره خو دا وه چې دوي په څۀ فخر او غرور کولو، هغه خو د وطن په مینه مستو خپله پرېښې وۀ. خو دا قسم خیال به د دوي زړۀ ته څنګه راتلو هغوي خو خپل غرض په مخه کړې وو او د خپلې ګېډې ډکولو په فکر کښې وو قوم او ملک ئې څۀ کوۀ؟

د مسلم لیګ د وزارت جوړېدو سره یوه فائده بله هم وشوه چې ځنې ملګري د تحریک نه جدا شوي وو او بکواس به ئې کولو. اوس هغوي هم په دې چکر کښې ګېر شو او دغسې عوامو ته د کره اوکوټه پته ولګېده. د ثمین جان په وزارت کښې د شاملېدو نه ماته ډېر تکلیف ورسېدو ځکه چې دې زمونږ ډېر پخوانے غړے وۀ او زما ورسره مینه وه خو اوس مجبور یم چې ووایم:

خود را فروختي ولې ارزان فروختي (چې ځان دې خرڅ کړو خو ارزان دې خرڅ کړو)

د ثمین جان خان ځنې دوستان دلته بند هم دي. اوس به دا ګورو چې په هغوي څۀ تېرېږي. هغه به یقیناً دوي لټوي چې خپل محاذ مضبوط کړي او په دې طریقه په وزارت کښې خپل حېثیت هم برقرار وساتي. هلته اکالي پارټۍ اجیت سنګهـ له د شاملېدو اجازت ورکړو او ځان له ئې یو بل کار وکتو. ټول پنجاب کښې به لانجې جوړېږي او د دې سزا به مومي. پته نشته چې د ماسټر تارا سنګهـ زړۀ له څۀ راغلي وو. یا به دا ووایم چې د کولو نه پس به ئې سوچ کړے وي چې ډېر غلط کار مې وکړو.